# زرلښته

Rukia Nantale
Benjamin Mitchley
Zahidullah Abid
5
پښتو ps

کله چې د زرلښتې مور مړه شوه، نو هغه ډېره خفه وه. د زرلښتې پلار د خپلې لور د پاملرنې لپاره ډېره هڅه کوله. ورو ورو دوی زده کړل چې څنګه پرته د زرلښتې د مور څخه په خوشحالۍ ژوند وکړي. دوی به هر سهار له یو بل سره کښېناستل او د راتلونکو ورځو په اړه به یې خبرې کولې. هر ماښام به یې په ګډه ډوډۍ خوړله. د لوښو د پرېمنځلو وروسته به د زرلښتې پلار د هغې سره د کورنۍ دندې په ترسره کولو کې مرسته کوله.

یوه ورځ د زرلښتې پلار د تل په شان نه، بلکې لږ ناوخته کور ته راغئ او غږ يې وکړ “زما لورې! چېرته يې؟” زرلښتې د خپل پلار په لور منډه وکړه، خو کله يې چې ولیده چې د هغې پلار د یوې ښځې لاس نیولی، نو ودرېدله. پلارېې په خندا ورته وویل: “زما لورې! زه غواړم چې تا له یو ځانګړي کس سره بلده کړم. دا انیتا ده.”

انیتا وویل: “سلام زرلښتې، پلار دې ستا په اړه ماته ډېر څه ویلي و.” خو زرلښتې خوشحاله نه شوه، او نه یې هم د نجلۍ لاس ونیوه. د زرلښتې پلار خوشحال و. هغه د ګډ ژوند تېرولو په اړه، او دا چې د ګډ ژوند له امله به د دوی ژوند څومره ښه وي، خبرې وکړې. هغه وویل: “زما لورې! هیله ده چې ته انیتا د خپلې مور په توګه ومنې.”

د زرلښتې ژوند بدل شو. هغې نور د سهار لخوا د خپل پلار سره د کيناستو لپاره وخت و نه موندلو. انيتا چې د کور ټول کارونه يې په غاړه و، ان دا چې د ډېرې ستړيا له امله به يې ماښام د ښوونځي کورنۍ دنده هم نه شوه ترسره کولی. زرلښته به د ډوډۍ خوړلو وروسته ويده کېدله. د هغې يوازينۍ هوساينه همغه رنګينه کمپله وه چې مور يې ورته ورکړې وه. د زرلښتې پلار په دې نه پوهېده چې لور يې خوشحاله نه ده.

 څو میاشتې وروسته د زرلښتې پلار دوی ته وویل:”زه باید د خپلې دندې لپاره څه مودې سفر وکړم.” “مګر زه پوهیږم چې تاسوبه له یو بل سره مرسته وکړئ.” زرلښته ډېره خفه شوه، خو پلار یې پوه نه شو. انیتاهم خوشحاله نه وه او څه یې ونه ویل.

د زرلښتې ژوند په خرابېدو شو. کله به یې چې د کور کارونه ونه کړل، او یا به یې کوم شکایت کوه، انیتا به هغه وهله. د شپې به انیتا ډېر خواږه خوړل، او زرلښتې ته به یې لږ خواړه پرېښودل.
زرلښتې به هره شپه د خپلې مور کمپله په غېږ کې نیوله او په ژړا ژړا به ویده کېده.

یو سهار زرلښته تر ناوخته پورې خپلې بستره کې ویده وه، چې انیتا چیغې کړې:"ای لټې نجلۍ" او له کټ څخه یې لاندې راوغورځوله. هغه کمیله چې زرلښتې ته یې ډېر ارزښت درلود، په مېخ کې ونښته او دوه ټوټې شوه.

زرلښته ډیره خپه وه. هغې پریکړه وکړه چې له کوره وتښتي. هغې د خپلې مور د کمیلې ټوټې او یو څه خواړه له ځان سره واخیستل، او له کوره ووتله. هغې هغه لارتعقیب کړه، په کومه لاره چې یې پلار تللی ؤ.

کله چې ماښام شو، نو هغه یوې ویالې ته نږدې یوې لوړې ونې ته وختله او د ونې په څانګو کې یې د ځان لپاره د خوب ځای جوړ کړ. او چې ویده کېده له ځان سره سندرې ویلې: “مورې، مورې، مورې، تا زه پرېښودم، تا زه پرېښودم، او هیڅکله بیرته راونه ګرځېدې. پلار مې زما سره نوره مینه نه لري. مورې، ته کله بیرته راځې؟ تا زه پرېښودم.”

بله ورځ ښځې د ويالې غاړې ته د جامو مينځلو لپاره راغلې وې چې زرلښتې سندرې ويلې، د دوی پام شو چې د لوړې ونې څخه د غمجنې سندرې اواز راځي. دوی فکر وکړ چې دا يوازې باد دی چې د ونې د پاڼو رېولو له امله اوازونه کوي، نو خپل کار ته يې دوام ورکړ. خو يوې ښځې سندرې ته په ډېر غور سره غوږ نيولی ؤ.

یادي ښځې پورته د ونې ښاخونو ته کتل چې یوه نجلۍ او د رنګینې کمیلې ټوټې یې ولیدلې، نو چیغې یې کړې، "زرلښتې!، زما د ورور لورکۍ!" نورې ښځې هم د کالیو پرېمینځل ودرول، او د زرلښتې سره یې مرسته وکړه چې له ونې څخه راښکته شي. د زرلښتې ترور هغې په غېږ کې ونیوله او د آرامولو لپاره یې هڅه وکړه.

د زرلښتې ترور هغه خپل کور ته یوړله. هغې زرلښتې ته ګرم خواړه ورکړه، او د خپلې مور د کمپلې سره یې په کټ کې څملوله. د شپې زرلښته په ژړا ژړا ویده شوه خو دا اوښکې یې د خوشحالۍ اوښکې وې. هغه پوهېده چې د هغې ترور به د هغې سمه پالنه وکړي.

کله چې د زرلښتې پلار کور ته راستون شو، نو ویې لیده چې په کوټه کې څوک نشته. هغه په دردمن زړه وپوښتل “څه خبره ده، انیتا؟” هغې ورته ځواب ورکړ، چې زرلښته له کوره تښتېدلې ده او زیاته یې کړه:”ما غوښتل چې هغه زما درناوی وکړي. مګر شاید زه ډېره جدي وم.” د زرلښتې پلار له کوره ووته او د ویالې په لور روان شو. هغه د خپلې خور کلي ته ولاړ، ترڅو معلومه کړي چې که د هغه خور زرلښته لیدلې وي.

زرلښتې د خپلې ترور د لورګانو سره لوبې کولې، چې پلار یې د لرې څخه تر سترګو شو. زرلښتې ویره درلوده چې پلار به یې ورته په غوسه وي، نو کور خواته یې منډه کړه چې ځان پټ کړي. خو پلار یې ورته ورغئ او یې وویل: “زرلښتې ، تا یوه ډېره ښه مور موندلې ده، هغه له تا سره مینه لري او تا درک کوي، زه په تا ویاړم او له تاسره مینه لرم.” دوی دواړو په دې سلا وکړه چې زرلښته به د خپلې ترور سره تر هغه وخته اوسېږي تر څو چې د زرلښتې خوښه وي.

د هغې پلار به هره ورځ د زرلښتې ليدو ته راته. ډېر وخت وروسته پلار يې له انيتا سره په ګډه راغئ. انيتا د زرلښتې لاس په خپل لاس کې ونيوه او ورته يې وويل "کوچنۍ! زه ډېره بخښنه غواړم، زه تېروتې وم." انيتا ژړل او ويې ويل "کولای شې ماته د جبرانولو لپاره يو وار او چانس راکړې؟" زرلښتې د خپل پلار انديښمن مخ ته وکتل او ورو ورو د انيتا خواته ورغله او د انيتا څخه يې خپل لاسونه راچاپېر کړل.

بله اونۍ انیتا، زرلښتې، د هغې ترور او د ترور لورګانو ته د ډوډۍ خوړلو لپاره یوې لویې مېلمستیا ته بلنه ورکړه. انیتا د زرلښتې د خوښې خواړه چمتو کړي و، ټولویه مړې خېټې خواړه وخوړل. ماشومانو لوبې او لویانو مرکې کولې. زرلښته ډېره خوشحاله وه. هغې پریکړه وکړه چې ډېر ژر به بیرته خپل کور ته راستنه شي او د خپل پلار او میرې سره به ګډ ژوند وکړي.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## زرلښته

Rukia Nantale
Benjamin Mitchley
Zahidullah Abid

CC BY